

# جَوَامِعُ الْكَلِم

## څلويښت حديثونه


Ketabton.com

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب

ترتيب کوونکې: جان محمد مخلص

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلويښت حديثونه

۱ .اِنَّمَا الْاَعْمالُ بِالنِّيَّاتِ.ژباړه: ټول عملونه په نيت دي. (بخاري ومسلم).

۲. حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَي الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيْضِ وَاِتِّبَاعُ الْجَنَائِزِوَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيْتُ الْعَاطِسِ (بخاري ومسلم).

ژباړه: د مسلمان په مسلمان باندي پنځه حقونه دي، دسلام جواب ورکول، دبيمار پوښتنه، جنازي سره تلل، دعوت قبلول، د پرنجي جواب په (يَرحَمُکَ الله) ورکول.

۳.لَايَرْحَمُ اللهُ مَنْ لّاَ يَرْحَمُ النَّاسَ. (بخاري ومسلم). ژباړه: الله تعالی په هغه چا رحم نه کوي څوک چي په خلقو باندي رحم نه کوي.

۴.لَايَدْخُل الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ. (بخاري ومسلم). ژباړه: چغل خور به جنت ته داخل نشي.

۵. لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ (بخاري ومسلم). ژباړه: قطع رحمي کوونکي به جنت کې نه داخليـــږي.

۶.اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَّوْمَ الْقِيَامةِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: ظلم به د قيامت په ورځ د تيارو په شکل کې وي.

۷.مَا اَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنْ الْاِزَارِ فِی النَّارِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: د پښو د بيډيو کومه حصه چي په پينسو کې پټه وي هغه به دوزخ ته ځي.

۸.اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ. (بخاري ومسلم). ژباړه: مسلمان هغه دي دچا د ژبې او لاس څخه چي نور مسلمانان په امن وي.

۹. مَنْ يُّحْرَمُ الرِّفْقَ يُحْرَمُ الْخَيْرَكُلَّهُ. (بخاري ومسلم). ژباړه: څوک چي د نرم عادت څخه محروم پاتي شو هغه د ټول خير نه محرومه شو.

۱۰.لَيْسَ الشَّدِيْدُ بِالصُّرْعَةِ اِنَّمَا الشَّدِيْدُ الَّذِیْ يَمْلِکُ نَفْسَهُ عَنْدَ الْغَضَبِ. (بخاري ومسلم) ژباړه: پهلوان هغه څوک نه دي چي څوک راځملوي

مګر پهلوان هغه څوک دي چي د غوسې پروخت خپل نفس قابو کړي.

۱۱.اِذَالَم تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَاشِئْتَ. (بخاري ومسلم). ژباړه: هرکله چې تاسو حيأ نه کوئ نوچي څه موخوښه وي هغه کوئ.

۱۲.اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ. (بخاري ومسلم). ژباړه: د الله تعالی په نزد ټولوعملونوکې زيات خوښ هغه عمل دي چي هميشه وي اګرکه لږ وي.

۱۳.لاَ تَدْخُلُ الْمَلٰئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ كَلْبٌ اَوْ تَصَاوِيْرٌ. (بخاري ومسلم). ژباړه: هغه کور ته درحمت فرښتي نه داخليږي کوم کور کې چې سپې يا تصوير وي.

۱۴.اِنَّ مِنْ اَحَبِّكُمْ اِلَيَّ اَحْسَنُكُمْ اَخْلَاقاً. (بخاري ومسلم). ژباړه: تاسو کې هغه څوک ماته زيات محبوب دي څوک چې زيات خوش اخلاقه وي.

۱۵.اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُوْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: دنيا دمسلمان لپاره قيدخانه ده او دکافر لپاره جنت دي.

۱۶.لَايَحِلُّ لِمُؤْمِنِ اَنْ يَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ. (بخاري ومسلم). ژباړه: د مسلمان لپاره جائز نه دي چې ددريو ورځو نه زيات خپل مسلمان ورور سره تعلق پرې کړي.

په خپلو دوعاوُ کې مې ياد ساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷.لَايُلْدَغُ الْمَرْءُمِنْ حُجْرٍوَّاحِدٍ مَرَّتَيْنِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: انسان ديوي سُوړي نه دوه ځلې نشي چيچل کيداي.

۱۸.اَلْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: حقيقي مالداري د زړه مالداري ده.

۱۹.كُنْ فِى الدُّنْيَا كَاَنَّکَ غَرِيْبٌ اَوْ عَابَرْسَبِيْلٍ. (بخاري). ژباړه: دنيا کې داسې اوسيږه څرنګه چې يو مسافر يا لاروي اُوسيږي.

۲۰. كَفٰى بِالْمَرْءِكَذِبًا اَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ. (مسلم ومشکوٰة). ديوه سړي ددروغژن کيدو لپاره دومره کافي ده چې کومه خبره واوري او بغير دتحقيقه يې خلکوته بيانول شروع کړي.

۲۱. عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُاَبِيْهِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: دسړي تره دهغه دپلار په ځاي دي.

۲۲.مَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ االلهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: څوک چې ديو مسلمان عيبونه پټ کړي الله تعالىٰ به دقيامت په ورځ دهغه عيبونه پټ کړي.

۲۳.قَدْ اَفْلَحَ مَنْ اَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَا اٰتَاهُ. (مسلم). ژباړه: کامياب دي هغه څوک چې اسلام ئي راوړو اوپه قدر دکفايت ورته رزق پيدا شو او په هغه ورته الله پاک قناعت ورکړو.

۲۴.اَشَدُّ النَّاسِ عَذَاباً يَّوْمَ الْقِيَامَةِ اَلْمُصَوِّرُوْنَ. (بخاري ومسلم). ژباره: د ټولو نه سخت عذاب کې به دقيامت په ورځ تصوير جوړونکې وي.

۲۵.اَلْمُسْلِمُ اَخُوالْمُسْلِمْ. (بخاري ومسلم). ژباړه: مسلمان دمسلمان ورور دي.

۲۶.لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُحِبُّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ. (بخاري ومسلم). ژباړه: هيڅ يو بنده تر هغه وخته پوري کامل دايمان کيداي نشي تر څو دخپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي کوم څيز چې دځان لپاره خوښوي.

۲۷.لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَّا يَاْمَنُ جَارُه بَوَائِقَه. (بخاري ومسلم). ژباره: هغه څوک به جنت ته داخل نشي دچا ګاونډي چې دهغه د تکليفونو نه په امن کې نه وي

۲۸.اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَانَبِيَّ بَعْدِىْ. (بخاري ومسلم). ژباړه: زه آخري پيــــغمبر يم، زما نه پس بل پيـــــغمبر نه راځي.

۲۹.لَا تُقَاطِعُوْا وَلَا تَدَابَرُوْا وَلَا تَبَاغَضُوْا وَلَا تَحَاسَدُوْا وَكُوْنُوْا عِبَادَ اللهِ اِخْوَنًا. (بخاري). ژباړه: خپل مينځ کې قطع تعلق مه کوي او يو بل پسې مه لګيږي او خپل مينځ کې بُغض مه ساتې او حسد مه کوئ او ائ دالله جل جلاله بنده ګانو! ټول سره ورونړه ورونړه شئ.

۳۰.اِنّ الْاِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَه وَاِنَّ الْهَجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا وَاِنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَه. ژباړه: اسلام هغه ټول ګناهونه ختموي کوم چې ددې نه وړاندې شوي وي مګر هجرت او حج هغه ټول ګناهونه ختموي کوم چې تير شوي وي.

۳۱.اَلْكَبَائِرُ اَلْاِشْرَاكُ بِاللهِ وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَشَهَادَةُ الزُّوْرِ. (بخاري ومسلم،ازمشکوٰة). ژباړه: کبيره ګناهونه دالله تعالى سره څوک شريک نيول، دمورا وپلار نافرمانى کول اوبې ګناه څوک وژل او ددروغو ګواهې ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲.مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَّسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِى الدُّونْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاللهُ فِىْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِىْ عَوْنِ اَخِيْهِ. (مسلم ازمشكوٰة). ژباړه: څوک چې يو مسلمان د څه دنياوي مُصيبت نه خلاص کړي الله تعالیٰ به هغه دقيامت دمصيبتونو نه خلاص کړي او څوک چې په چا غريب باندې اساني وکړي، الله تعالیٰ به هغه باندې په دنيا او اخرت کې اسانې وکړي او څوک چې د چا مسلمان پرده وکړي الله تعالیٰ به دهغه په دنيا او اخرت کې دهغه پرده وکړي او ترڅو چې يو مسلمان دبل مسلمان ورورېه مرسته کې لګيا وي الله تعالیٰ به د هغه په مرسته کې لګيا اوسئ.

۳۳.كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ. (مسلم). ژباړه: هر يو بدعت ګمراهي ده.

۳۴.اَبْغَضُ الرِّجَالِ عِنْدَ اللهِ اَلْاَلَدُّ الْخَصِمُ. (مسلم). ژباړه: د الله تعالیٰ په نزد د ټولو نه زيات مبغوض جګړه مار انسان دي.

۳۵.اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ. (مسلم). ژباړه: پاکي د ايمان يوه برخه ده.

۳۶.اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا. (مسلم). ژباړه: د الله تعالیٰ په نزد دټولو نه زيات محبوب ځايونه جُوماتونه دي.

۳۷.لَا تَتَّخِذُوا الْقُبُوْرَ مَسَاجِدَ. (مسلم). ژباړه: قبرونه د سجدو ځايونه مه جوړوئ.

۳۸.لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ. (مسلم). ژباړه: په لمانځه کې خپل صفونه منظم او نيغ کړي که نه نو الله تعالیٰ به ستاس په زړونو کې اختلاف واچوي.

۳۹.مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلّٰى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا. (بخاري ومسلم). ژباړه: څوک چې په ما يو ځل درود راوليږي الله تعالیٰ په هغه لس ځله رحمت ليږي.

۴۰.اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ. (بخاري ومسلم). ژباړه: د ټولو عملونو اعتبار په خاتمه باندې دي.

يادونــه:

🡸د نبی کريم صلی‌علیه‌وسلم ارشاد دي څوک چې زما د امت د فايدي لپاره ددين د کارونو نه څلويښت حديثونه حفظ کړي نو الله جل‌جلاله به هغه دقيامت په ورځ د عالمانو اوشهيدانو په ډله کې راپاڅوي او ورته به وفرمايل شي چې په کومه دروازه دي خوښه وي جنت ته داخل شه.

🡸که څوک په نوموړي کتاب کې له کومي نيمګړتيا سره مخامخ شي نو د مسلماني ورورۍ له مخې دي زما سره په اړيکه کې شي تر څو دغه نيمګړتياوي په راتلونکي کې تکرار نشي او همدارنګه په خپلو دوعاوُ کې مې هير نه کړي.

د اړيکې شميره: ۰۷۷۳۶۰۸۳۲۴

ايميل ادرس: Jan.m.mukhlis@gmail.com

د فيسبوک پته: www.facebook.com/786Jan.Muhammad

په خپلو دوعاوُ کې مې ياد ساتې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**